# "شال" د تاریخ په اوږدو کښي

## A Hisorical Account of “*Shaal”:* The Quetta Valley

Shoukat Tareen*

**Abstract:**

The term *Shall* has been widely used in the historical accounts by various historians for the today’s Quetta valley that is the ca[ital city of Balochistan. In this paper the scholar has traced back the term and its subsequent context that elaborates the political and historial importance of *Shall* and its adjacent Pashtun and Baloch cities and valies. There are substantial missconceptions about the term and the Quetta valley that are constructed by various local and external historians. The writer has argued with substantial historical evidences and has proved that, the use of this term transcends the 18th century politics of this region and finds this term in almost 800 years old historical accounts.

"شال" د اوسنۍ کوټې هغه زوړ او لرغونی نوم دی. چې د تاریخ زوړ متونونو تل د لوی کندهار د شرقي مضافاتو په توګه یاد کړی دی. دغه نوم تر زرکاله لا زیاتې تاریخي ریښې لري، دغه نوم په تاریخي کتابونو کښې کله د "سال" او "بشال" په بڼه هم ذکر شوی دی. ددې په څنګ کښې اوسني مستونګ ,مستانګ، هسنان، اوستون اوسنۍ دکۍ د دوکي، او سنځاوۍ د, ساجۍ، اسفنجائ، اسپئ جائ، په بڼه او پښین د افشین، پشین او خال خال د پوشنج په نامه د کندهار شرقي سیمې تشکیلوي. امیریل ګزیټیر آف انډیا لیکي:

"the ancient name of Quetta was shal, term by which it is shill known among the peopal of the country and which Rawlison traces back to ten the century" (1.120

* Shoukat Tareen is Subject Specialist (SS), at Government Ellementary College Loralai

علامه عبدالشکور رشاد د احسن التقاسم په حواله لیکي: "تالیف احسن اتقاسم (۱۰۳۷ء مؤلف البشاري المقدسي) چې د ذکر سوي کتاب مؤلف لیکي چې د والشتان د سیمې ښارونه داد ي.

افیشن یعني اوسنی پښین، اسپیدجه اوسنی سنځاوی، مستنګ، شال،سیوه یعني سیوی، (2.304) هم دهغه یو بل ډېر زوړ او هم تاریخي کتاب نامه هرات دی، چې دتالیف زمانه (۱۳۱۹ء- ۱۳۲ ء) پوري ده دغه کتاب په ډېر مکرر ډول شال،مستونګ او دکی ورسره اوسنی سنځاوی د ساجی په ښه راوړي دي او مکرر ډول دغه سیمې د لوی کندهار شرقي سیمې بولي دویم کتاب مؤلف دکال 1262ء دواقعې په ضمن کښې دملک شمس الدین کرت او نکودر په حقله لیکي، دی یعني نکودر چې کله دشهزاده او ملک شمس الدین دیوازې دیوای د واورېدل نو د هغه ځای څخه د اوغانستان په لور ولاړی دی چې کله شال او بیني کاوته ورسېدی نو شهزاده او ملک شمس الدین هم پسې ورسېدل.(2.234)

بل ځای دغه مؤلف د دُکی دکلا د نیولو په ضمن کښې لیکي: "د دوکی قلعه کله جوړه سوې ده دهغه را هیسې چانه ده نیولې کوم چا باچا هم نۀ ده فتح کړې او هلته د ډېري مودې را هیسې ذخیره یې ته ده"-(2.211)

مخ ته د اوسنی سنجاوی په حقله لیکي:

"په کال 1257ء کښې دملک اسلام شمس الحق والدین په خذمت کښې د افغانستان سردارانو او ملکانو خواست وکړ چې د دوکی دکلا دجنوب په لور داویا فرلنګ په واټن دغلو یوه ټوله اوسېږي چې کنکان او نیران بلل کېږي او اندازًد سلو کلو را هیسې په غلا لګیاوي" مخ ته لیکي د بله ورځ ده دساجی، قلعه دنیولو دپاره لښکر ورېږي چې کله یې دساجی دقلعه باندې دالله تعالیٰ پرته دبل چا لاس نۀ رپېږي". (3.221)

تر خان نامه، بل هغه زوړ او ډېر مهم اثر دی چې د څوارلسمي عسوي پیړی په پای کښې لیکل شوی دی. د دې مؤلف په ډېر صراحت سره، شال، مستونګ، او سیوی په اوسنی ښه یاد وي.--- (4.40)

بابر نامه تزک بابري هغه بل ډېر مهم اثر دی چې د بابر باچا په خپل لاس لیکل شوی دی. دغه کتاب چې د تالیف کال 1529ء دی دپښتني تولني، اقوامو او قومي مشرانو په باره کښې چې څومره معلومات راکوي بل هیڅ یو کتاب د دغه وخت په حقله دومره واضح معلومات نهٔ لري بابر دکندهار دیرغل او دشاه بېګ او مقیم سره دجنګ او کندهار دنیولو په تفصیلاتو کښې وائي.

"د دښمن د له منځه وړولو وروسته مونږ د کندهار په لور رهي شو او چارباغ فرخ زار چې اوس یې نوم اونښان هم نسته تکه سو شاه بېګ او مقیم چې وځغستل نو یې ونه کولای شو چې کندهار ته ولاړ شي شاه بیګ، شاد و مستونګ، په لور ولاړو او مقیم د زمین داور په خوا".(5.264)

علامه عبدالشکور رشاد صاحب دبل ډېر زوړ اثر المالک ولمالک (تالیف 951ء)

په حواله چې کله دسیستان دښارونو ذکر کوي هلته قعر سیوی، د اوسنی سیوی، او اسفنجایٔ د اوسنی سنځاوی، د ښار ونو په حیثیت ذکر کوي.(6.193)

طبقات اکبري چې د خواجه نظام الدین احمد په قلم لیکل سوی کتاب او د تالیف زمانه یې (1592ء- 1594ء)

ترمنځ ده د شال او مستونګ په یو لیکي:

مرزا عسکري احسان فراموشي وکړه کله چې همایون باچا د سال زمستان، وښار ته نژدې شو نو ده دکندهار خوا برید وکړ. --- (7.83)

د دغه کتاب اردو مترجم محمدایوب قادري لیکي: "په اصل کښې دغه توری شال و مستونګ دی شال دکوټې زوړ نوم دی مولوي ذکاءالله مستنګ او اکبرنامه مستبنک لیکلی دی چې د مستنګ تعریف دی. (7.83)

منتخب التوایخ چې دتالیف کال (1596ء-1595ء) ترمنځ د شال، مستونګ، قندهار دشرقي سیمو دګڼلو په ترڅ کښې لیکي: "چې کله همایون دشال مشانګ، وځای ته ورسېدی نو مرزا عسکري د دهٔ د

لاړ نیولو دپاره تنګ وکړ او دهمایون د لښکر د چغلي دپاره یې یو ازبک چولي بهادر مقرر کړ".(8.296)

د دغه عصر یو بل ډېر بې جوړې کتاب ائین اکبري چې د اکبر د دربار ډېر عالم او فاضل لیکوال ابو فضل په کال (96- 1595ء) په وخت کښې لیکلی دی دغه فاضل لیکوال "توابع شرقي قندهار" تر عنوان لاندې لیکي:

" ولایت دُوکی چې خاورو اومه قلعه لري او د افغانانو ترین او کاکړ قبائل په کښې او سي و لایت پشنګ، دلته هم د ډېر پخوا را هیسې دخاورو قلعه سته دلته هم ترین او کاکړ قبائل استوګن دي ولایت شال دلته دخاورو قلعه او افغان کاسي پکښې اوسیږي او و لایت مشتنګ دخاورو قلعه لري او افغان کاسي او بلوچیت استوګنه لري." (9.1117)

تاریخ معصومي دکال1600ء تالیف دی په مکرر ډول شال سیوی او مستونګ یو ځای ذکر کوي او لیکي: "میر ذولنون په دغه هېواد کښې استقلال تر لاسه کړ او د شال او مستونګ او شاوخوائې قبضه وکړه" (10.111)

دبابر باچا لور ګلبدن بیګم په خپل تالیف همایون نامه تالیف 1600ءکښې وائي. کیسپک ببرته راغلی او دغه خبره یې وکړه حضرت ډېرپریشانه وو، چې باید څهٔ وکړل سي او چرته ولاړ سو ته صلاح وروسته دی ته محمدخان او بیرم خان صلاح ورکړه، چې ,شال مستان، او شمالي سیمې پرته دی قندهار سرحد دی وبل ځای ته تنګ مناسب نهٔ دی. په پای کښې د دغه خبري دمنلو وروسته دقندهار په لور رهي سو، چې کله ,وشال مستان، ته نزدې شو رلي نام ته ورسېدو نو واوره او باران وو ځکه نو حضرت پریکړه وکړه چې درځئ ,شال مستان، ته ورشو.(11.99)

چې کله څوک هم دهندوستان او افغانستان په حقله څهٔ لیکلي یا مطالعه کوي نو دتاریخ فرشته پرته به یې لیک او مطالعه نیمګړې وې دغه کتاب چې دتالیف کال یې 1611ء دی هم چې کله دبابر دغلځي افغانانو سره د جنګ او د کندهار د فتح کولو خبره کوي نو لیکي:

" وقندهار ته نزدې جنګ ومښتئ او دواړو وروڼو شابيګ او مقيم ماته وخوړه شاه بيګ يساول (يعني شال) او محمد مقيم داورته وتښيدل."(12.426)

تاريخ احمدشاهي تاليف ( 1726ء) شرح کيفيت مخالفت نصيرخان بلوڅ په ضمن کښې شال او مستونګ يو ځاى ذکر کوي. (13.30)

دهندوستان په تاريخي کتابونو کښې ماثران مراء يو ډېر مستند ماخذ ګڼل کيږي. دغه کتاب چې د تاليف زمانه يې (47-1737ء) ده دشيرخان ترين دحالتو په ضمن ليکي:

"د فوشنج زمين دار دی فوشنج د پوشنګ معرب دی چې د قندهار او بهکر ترمنځ يو کلی دی. "(14.431)

د اوسنی سنځاوی په حقله يو بل ډېر قديم او زوړ متن چې اسفنجاځ، په بڼه يې ياد وي هغه په کال ۹۴۲ء کښې د ابولقاسم محمد ابن حوقل سفر دی وائي. " بالش ديوې سيمې نوم دی چې د حاکم ځای يې سيوی ده وائي په قعر کښې کښيني اسفنجاځ پوري درې مزله دی. قعر اسفنجاځ ته مخامخ دی د اسنفنجاځ او قعر تر منځ فاصله فرسخ ده. اسفنجاځ ښائسته کلالري د اسفنجاځ څخه تر سيوی پوري دوه مزله دي.( 15.52)

احمدشاهي شاهنامه تاليف (1176ء) ليکي:

درست بلوڅ په جنګ شه ما ت

د مستنګ، وشال، قلات (15.192)

تختته الکرام چې تاليف کال (1769ء) دی. شال، سيوی او مستونګ په تکرار سره ذکر کوي او ددې واړه يو دبل سره مربوط ګڼي. د ارغو خاندان د تفصيلاتو په ضمن کښې ليکي:

"مير عليکه ارغون، سلطان مقيم بيګلار کيبک ارغون او احمد ترخان يې د و فيروز پورته نزدې پريښول او دسيوستان (سهيون) دخوا وشا څخه يې د درياخان د ځامنو دله منځه وړولو سره د شال او سيوی په لور ولاړی."(16.144)

دلتـه داخبـره هـم يـاد سـاتل پـه کـار ده چـې شـال پـه اوسـني وختونـو کښـې دشـال کـوټ پـه نامـه ذکـر شـوی دی. زمـا دمعلومـاتو لـومړی اور شـال کـوټ پـه هغـه کتـاب کښـې ذکـر شـوی دی چـې پـه لـومړی انګريـز افغـان جنـګ کښـې برخـه اخسـتونکو فرنګيـانو جمعـه دار سـيد فـدا حسـين ليکلـی دی دغـه کتـاب چـې پـه قلمـي بڼـه يـه انډيا افس لائبـري لنـدن کښـې پـروت دی ددغـه کتـاب مؤلـف چـې دفرنګيـانو سره ملګری افغانسـتان تـه ځـي دخپـل کتـاب نـوم يـې حـال جنـګ کابـل، ايښـی دی دغـه کتـاب پـه اردو ژبـه ليکـل شوی دی. ده خپل سفر په ترڅ دی ليکي:

"آخـر کـارتر ډېـر محنـت اوخـواري وروسـته چـې يـوه مياشـت يـې دوام درلودشـالکوټ، تـه ورسـېدو سـالکوټ يـو ه ښـاريه ده چـې دغرونـو پـه مـنځ کښې وه".(17.82)

راورټي په خپل کتاب د افغانستان او بلوچستان يادښتونو کښې ليکي:

"This chief ,Mihrab khan thinking himself independent at this season of convulsion ,condequent on this downfall of the safawi monarchy had lately encroached upon the afghan district of shal,or shal mastung, or mastang as it is also called and had possessed himself of its town and of its kot or fort, situated on a high mound in the mkddle of a plain, such a mound the afghan of the kansi or kasi tribe, to whom the trach belonged call in ther language a "kwata,h".(18.6111)

يـو انګريـز مصـنف پـه خپـل کتـاب کښـې چـې نـوم يـې the Causes of the afghan war دی او پـه کـال 1879ء کښـې پـه لنـدن کښـې چـاپ شـوی دی. د کـوټې ترعنـوان لانـدې ليکـي: د کوټې، مسـتونګ او شـوراوک صـوبې د احمدشـاه درانـی پـه لاس جـوړوي افغـان سـلطنت برخـې وي پـه تـاريخي، نسـلي او جغرافيـائي توګـه دکـوټې ښـاريه بشـمول دشـال، مسـتونګ دصـوبې پـه افغانسـتان کښـې شـاملې دي چـې دبـولان درې تـه ننوځي نو ته خراسان کښې يې.(576.19)

دلتـه داخبـره يـاد سـاتل پـه کـار ده چـې دنيمـي عيسـوي شخـه بيـاتر نولسمې عسوي پېړۍ پوري د افغانسان يو نوم خراسان هم وو.

انګريـز ليکـونکی Edward Thorontan دهندوسـتان او پـه مربوطـو سـيمو افغانستان، بلوچسـتان، سـنده پنجـاب او ورسـره جوخـت

رياستونو په حقله په خپله نادره جغرافيائی دائرة المارف کښې دسيوی په حقله ليکي "سبي ياسيوی چې د افغانستان کښې ده چې د ډاډر ښاريه څخه دپنځلس ميله په واټن دمشرق لور ته پرته ده د افغانستان د جنګ په دوران کښې سبي برطانوي ګريژن ونيوله چې بيا بېرته په کال 1842ء کښې چې ووتل."-(20.665)

مختهليکي: "د دغه ځای اوسيدونکي په لويه کچه پښي دي. "(20.669)

د تاريخ په په زړو متونوکښې دوکی دذکر سره کله کله ننني تل چوټيالی هم د چوټيالي په بڼه ذکر کيږي. او د دغه ټولي سيمي يعنې شال، سيوی. مستونګ، سنځاوی، پښين، دکی دلوی کندهار شرقي سيمي ياشرقي سيمي يا شرقي ولايات ګڼل کيږي په تاريخ کښې تل شال ديوې پراخې درې په توګه ذکر سوې ده او انګريزي متونونو کښې ورته provinceاو په پښتو او فارسي متونونو کښې ورته ولايت ووئيل شوی دی. درې په مقابل کښې مقابل شال کوټ يانني کوئټه دښاريا ښاريه په توګه ذکرده ګويا شال دهغه پراخې درې نوم چې دنني هنه اوړک، کچلاغ او ميان غونډي حتّی تر مچ پوري دسيمو احاطه کوي. لکه څنګه چې لوړ ترذرکاله زيات تاريخي حوالو دلاري داثابته سوي ده چې دلته د افغانانو قبيلي کاسي، کاکړ او ترين استوګن راروان دي. اوسنی مستونګ هم دشال لر ه جوخت د ډېر تاريخي ارزښت وړ دی. چې زړو تايخونو په تکرار سره ذکر کړی دی.

***

# حوالې

(1)Imperial Gazetter of India (Proincial servies) Baluchistan Sang-E-Meel Publication Lahore 1991

(2) دی جغرافیائي یادابښتونه علامه عبدالشکور رشاد، علامه استاد اکیډیمی کندهار 2011 ء

(3) تاریخ نامه هرات تالیف سیف بن محمد بن یعقوب الهروي
اردو ترجمه پروفیسر سلطان الطاف علي الفیصل ناشران وتاجران کتب غزني سټریټ اردو بازار لاهور کال مئ 2009ء

(4) ترخان نامه مؤلف سیدمیر محمدبن جلال ټهټوي سندهي ترجمع میرزاعباس علي بیګ سندهي ادبي بوارډ کال 2005ء

(5) تزک بابري مؤلف محمد ظهیر الدین بابر اردو ترجمه مرزا نصیرالدین حیدر الفصل ناشران وتاجران کتب غزني سټریټ اردو بازار لاهور کال جنوري 2006ء

(6) دکندهار یادابښتونه علامه پوهاند عبدالشکور استاد، د افغانستان دکلتوري ودې ټولني جرمني کال 2007ء

(7) طبقات اکبري جلد دوم، مؤلف خواجه نظام الدین احمد اردو ترجمه محمد ایوب قادري اردو سائنس بورډ 229اپر مال لاهور کال 1990ء

(8) متخب التواریخ، مؤلف مولانا عبدالقادر ملوک شاه بد ایوني اردو ترجمه محمود احمد فاروقي شیخ غلام علي اینډ سنز لاهور کال 1962ء

(9) آئین اکبري مؤلف علامه ابولفصل اردو ترجمه مولوي محمدفداعلي سنګ میل پبلي کیشر اردو بازار لاهور سال 2007ء

(10) تاریخ معصومي مؤلف میر محمد معصوم بکهری اردو ترجمه اختر رضوي سندهي ادبي بورډ جامشورو سنده سال 2002ء

(11) همایون نامه مؤلف ګلبدن بیګم، سنګ میل پبلي کیشر اردو بازار لاهور کال 1995ء

(12) تــاريخ فرشــته جلــد دوم، محمــد قاســم فرشــته اردو ترجمــه عبــدالحٔى خواجــه، ڈاکټــر عبــدالرحمٰن دوســت اليسوســي ايــټ الكــرم مارکيټ لاهور کال 1998ء

(13) تــاريخ احمــد شــاهي تــاليف محمــود الحيســني انمشــي ابــن ابراهيم الجامي دانش کتاب خانه قصه خواني پښور کال 2001ء

(14) مــاثر الامــراء جلــد دوم مؤلــف صــمعام الدولــه شــاهنواز خــان اردوترجمــه پروفيســر محمــد ايــوب قــادري اردو ســائنس بــورډ پــر ســال لاهــور کال 2007ء

(15) احمدشــاهي شــهنامه، نــاظم حــافظ مرغــزي پتــر نــۀ او تعلقــات علامه عبدالشکور رشاد علامه استاد اکيډمی کندهار کال 2008ء

(16) تحفتــه الکــرام، مؤلــف ميــر علــي شــير قــانع ټهټــوي اردو ترجمــه اختر رضوي سندهي ادبي بورډ جام شورو سنده کال 2001ء

(17) کتابیں اپنے اباکی، رضا علی عابدی سنگ میل پبلی کیشنز لاہور کال 2012ء

(18) Notes on Afghanistsn and Baluchistan byMajor H.G Raverty, Sang-E-Meel publication Lahore 2001

(19) Annuls of Baluchistan V.III by Hameed Baloch syed Hashimi Reference liberary Dehqan Garden Malok Hotal Malir Karachi year.
Abid Vo.I Abid.